# د خوشحال بابا نوي لغتونه (نیو لوچېزم)

## Neologism depicted in the poetry of "Khushal Baba"

فقیر محمد فقیر*

**Abstract:**

Neologism is new coin words and new terms or old one in new meaning. Every language has needed to create some words for needful expression. This modern age of science and technology everyday new things are invented and produced for which it is necessary to create new words. These new creating words and terms is the need of time. In this article the auther discussed the new words of Khushal Khan Khattak. These are those words which are used first time by Khushal Khan Khattak. These words are not seen before him. This regard he prove himself to be a languest as well.

نوي ټکي نوې اصطلاح یا زوړ ټکی په نوې معنا یا انداز کښې بیانول، استعمال کښې راوستل کله کله د ضرورت له مخه کیږي. د جدید سائنسي دور ایجادونه نوې نظریات، طبي، انجنئېنیرنګ، کمپیوټري، سیاسي، ثقافتي او زراعتي انقلاب ځان سره نوي نوي نومونه راوړي چې د نیو لوجېزم په اصطلاحي نوم یادېږي.

نیو لوجېزم Neologism د دوؤ یوناني ټکو Neo او Logos نه وتلی دی. Neo مطلب نوی او د Logos معنا word یعنې ټکی دی. چې په اصطلاح کښې د نویو ټکو او اصطلاحاتو جوړولو د پاره استعمالیږي.

John Algeo لیکي:

The form of the new itself may be novel, a shape that has not before been seen or heard in English or the newness may lie in a novel use of an existing form"(1)

ترجمه: دغه جوړښت نوې والې یا یو هیئت چې وړاندې نۀ وي لیدلی یا اورېدلی شوی. یا د وړاندې نه د موجود ټکي په نوې معنا کښې استعمال دی.

نوي لغتونه هغه وي چې وړاندې د دغې معنې د پاره نۀ وي استعمال شوي او په ډکشنرو کښې یې ځای نۀ وي موندلی یعنې په اول ځل د ژبې د ویونکو، ژب پوهانو یا علمي او ادبي ټولنو له خوا د عصري ضرورت او علمي ارزښت د پاره جوړ کړی شي.

* Lecturer, Islamia College University, Peshawar

په جدید دور کښې ټوله نړۍ په علمي، سیاسي، سائنسي او لساني بنیادونو د یو بل نه اثر اخلي او دغه اثر چې کله ژبه په خپله لمنه کښې رانغاړي نو ارو مرو نوي لغتونو ته اړتیا پیښیږي. پښتو ژبه کښې دا صلاحیت موجود دی چې نوي ټکي په خپل وجود کښې ځای کړي. علمي، اقتصادي او هر قسمه اصطلاح او نوښت د پاره ځان سمبال ساتلې شي. هر قسمه مفهوم ادا کولو توان لرلې شي. دغه وجه ده چې په دې ژبه کښې د نوؤ ټکو د پاره لاره هواره او همواره ده. د دغه نیو لوجېزم په برکت نۀ صرف ژبه هر قسمه مفهوم ادا کولی شي بلکې د ژبې په وسعت کښې هم خپل کردار لوبوي. ربښتیا خبره خو دا ده چې د نوي سائنسي ایجادونو او دریافتونو او نظریو اظهار بغېر د نیو لوجېزم نه ممکن نۀ دی. په یو صورت کښې د دې د افادیت او اهمیت نه انکار نۀ شي کېدلی. دوست شنواری لیکي:

"نیو لوجېزم ژبپوهنه کښې یوه اصطلاح ده چې په دوو معنو استعمالیږي.

الف: نوې کلیمه: د کلیمې جوړونه او نوې ترکیب چې د داسې مفهوم او داسې مسمٰی د افادې له پاره په کار واچولې شي چې د مخه پرې شهرت نۀ لري لکه ښکیلاک (استعمار)، څارنوال (مدعي العموم).

ب: د یوۀ مفهوم د افادې له پاره د یوې داسې کلیمې استعمال چې د مخه ورته نۀ وي استعمال شوي یعنې هم مسمٰی موجود وي اوهم اسم خو د موجوده نوي مفهوم د افادې د پاره نۀ وي پکارول شوي لکه څارندوی، اولسوال (حاکم) وغېره)"(2).

په نړۍ کښې یوه ژبه هم داسې نۀ شته چې هغې ته د نویو ټکو، اصطلاحاتو ضرورت نۀ پېښېږي او کومه ژبه چې د صلاحیت نۀ لري هغه غریبه پاتې شي او د عصري ضرورتونو د اظهار د پاره ناکافي شي او دغسې ورکه شي. او دا صرف د پښتو نۀ بلکې د هرې ژبې مسئله ده. دې سره ژبه غني کیږي او مخ په وړاندې یون ته لاره هواروي.

د سماجي بدلون، ثقافتي او معاشي تغیراتو په سبب د ذهني او علمي اکتساباتو په پایله کښې د ژبې په پانګه، لفظونو کښې زیاتوب کیږي"(3).

د ژبې د سوچه توب او هر قسم مفهوم د ادا کولو د پاره نیو لوجېزم د اهمیت وړ کار دی خو داسې هم نه چې د هر څیز یا په خوا نه موجودو لغتونو د پاره داسې متبادل ټکي راوړو چې د ژبې د پاره د زیان سبب وګرځي. او داسې دې هم نۀ وي چې هر سړی دی نوي نومونه جوړوي. سر محقق صدیق روهي لیکي:

"که یوه فصیحه کلمه چې په بېن المللي سویه استعمالیږي او یوه علمي اصطلاح چې په مهمو ژبو کښې عامه شوې وي. زمونږ ژبې ته ئې په طبیعي شکل لاره پېدا کړې وي. حتمي نۀ ده چې له ژبې ئې وشړو او په ځای ئې بله کلیمه اختراع کړو"(4).

کوم ځیزونه یا نومونه چې د پخوا نه موجود دي او خلق ورسره بلد دي. هغوی په دې هم نۀ دي خبر چې ګني دا د بلې ژبې نه راغلی ټکی دی. نو هغه بدلول فائده نۀ لري او کله کله خو داسې عجیبه نومونه هم مخې ته راشي چې سړی ورته حېران پاتې شي. ډاکټر مجاور احمد زیار لیکي:

"ډېر ئې د خپلو او پردیو د ټوقو او ملنډو لوبځې ګرځېدلي دي، لکه سترتوب(ریاست) ټوپنۍ(نړۍ)، ټوپن ځرګند (شهره آفاق)، پاس پاس(اسمان) او لنډ اندو پښتنو او دښنو ئې په پښتو لابترې را مېنځته کړي دي.

لکه واخلې: کړې وړې خوړې (ځلوبې)، ړغ ډبلي (راډیو)، شرنګ سوټي (رباب) د رڼا کڅوړه (بلب)....."(5).

نو چې دا قسم نوي نومونه کېښودلې نو څوک به ورته سم کار ووائي. ژبه د اسانولو په ځای ګرانېږي او اشنا لغت هم له مخه ځي او نا اشنا لغت ئې هم د ځای نیولو نۀ وي. ژبه د یو قوم شریک میراث دی. خو داسې نۀ ده چې هر سړی دی پرې لوبې وکړي. نوې لغت که هر څوک جوړوي او د قبولیت یا مسترد کولو حق که هر څو عوامي اکثریت ته حاصل دی. بیا هم د نویو ټکو، دپلټنې او سنجولو د پاره حکومتي اداره یا ادبي ټولنه په کار ده چې په رسمي ډول داسې نومونې مخې ته راشي چې د ژبې او اولس د پاره د خېر او ترقۍ سبب وګرځي. داسې دې نۀ وي چې څو باړې پسې تخته هم لاړه شي.

هغه ټکي چې په دخیل، مفعن صورت کښې د پخوا نه موجود دي یا په عالمي ژبو کښې یو شان استعمالیږي هغه ټکو له نوي پېدا کول نۀ دي پکار. د یوې کلیمې جوړولو نه وړاندې ژب پوهانو له پکار دي چې په ژبه ژور نظر واچوي. هسې نه داسې وشي چې په خپله ژبه کښې د نوي ټکي نه ښۀ او مناسب لغت موجود وي بیا هم د هغه په مقابله کښې کم مناسب لغت جوړ کړې شي.

## نوی لغت څنګه جوړیږي؟

په یوه ژبه کښې نوي ټکي د نوې لغاتو، اشتقاق، ترکیب او مستعار ټکو په وسیله پیدا کیږي او په ژبه کښې د وسعت سبب ګرځي په قاموس کښې د تورو اضافه کیږي. مطلب او مقصد ادا کول په یوه ژبه کښې د لفظونو د ډېر والي په وجه اسانیږي. څومره چې د لفظونو ذخیره زیاته وي هومره ژبه غني وي.

ډاکټر مجاور احمد زیار څلور توکي زاړۀ، سوچه، مستعار او نوې لغتونه د ژبې د جوړښت سبب ګرځوي"(6). د حمزه یاد نومې کتاب کښې د ژبې جوړېدو باره کښې لیکي: په سلو کښې

۲۵ ګړدودي يا ګړنۍ پانګه، په سلو کښې ۲۵ لرغونۍ پانګه، په سل کښې ۲۵ خپل لاسي يا مصنوعي پانګه، په سل کښې ۲۵ پورنۍ يا پردۍ پانګه"(7).

There are six basic etymological sources for new words: creating, Borrowing, Combining, shortening, blending and shifting. Each of these six however has a number of important subtypes"(8)

ترجمه: د نوو ټکو د پاره شپږ بنيادي طريقې دي. نوې جوړونه، مستعار، مرکب احتصار، مخلوط او ردو بدل کول دي د دې هر يو بيا څو شاخونه دي:

د دغو مختصر ذکر کوم:

۱. بيخي نوي لغت (Creating: دا هغه لفظونه دي چې د وړاندې نه استعمال شوي نۀ وي اويو مفهوم د پاره په اول ځل مخې ته راشي يا که چرې موجود وو خو د نوي مفهوم د پاره استعمال شوي نۀ وي. داسې لفظونه د عوامو له خوا هم جوړېږي خو د اعتبار وړ لغات د علمي ټولنو له خوا جوړيږي چې د ګرائمر د قاعدو سره سمون خوري لکه: الوتکه، توغندي، پوهنتون، وغېره.

۲. مستعار لغات (Borrowings): دا هغه لفظونه دي چې له نورو ژبو نه واخستلی شي چې يو قسم په کښې دخيل توري دي. دا هغه دي چې د څۀ معنوي او لفظي بدلون نه بغېر په يوه ژبه کښې ځای و مومي: لکه: علم، کتاب، قلم، صبر، عقل او حکم وغېره چې عربي الاصل دي خو پښتو کښې داخل شوي دي بل قسم ئې مفغن دی چې لږ ډېر معنوي او لفظي بدلون لري: لکه: اودس(اب دست) تپوس (تفحص) اورته (عورت) وغېره

مستعارې ترجمې (Loan Translation) په دې لړ کښې ډېر اهميت لري. لکه د عقله پلي، د (عقل سے پيدل هونا)، مستعاره ترجمه ده.

۳. اشتقاق: Derivation: دې ته affixation هم وئيلی شي. دا هغه کليمې دي چې د اسم يا اسم صفت نه وړاندې يا وروستو، سابقو، او لاحقو په شکل کښې يو ځای کيږي. لکه زرګر، خټګر، کوډګر، ستمګر، لاحقې دي. او بې خونده، بې کاره، ناجوړه، بدنامه وغېره سابقې دي.

۴. ترکيب (Compounding): په داسې کليمو کښې دوۀ يا دوۀ نه زيات داسې ټکي يو ځای کيږي چې ځان له خپلې خپلې پوره معنې لري. خپلواک لفظونه وي. لکه سپين سترګي، تروږمۍ، سرکوزي، کټمل، چرګ بانګ، کلک سترګي او داسې نور.

۵. مخلوط توري (Combining): يا Hybridization: په داسې لفظونو کښې د دوو مختلفو ژبو توري د يو مفهوم د ضرورت د پاره راځي. لکه اېټمي وسله، پښتو ډيپارټمنټ، خبېر بازار، قومي اسمبلي، ټېکس وصولي، فلم سازي، خلائي مشن، موټروان او ځان مرګي وغېره.

۶.حذف(Shortning) : په دې کښې د يو توري نه حرف يا حرفونه کمولی شي. لکه پوزه (پزه) کېکاوس (کے) چې د خوشحال په شعر کښې دی.

چې په وخت ئې د بهار عشرت په مې دی
بادشاهي ئې مبارک شه لکه کې دی

(ارمغان خوشحال ۸۲)

## د خوشحال بابا نيو لوجېزم:

خوشحال خان خټک د پښتو ژبې هغه نۀ هېرېدونکی او سدا بهار اتل دی چې د ژوند په هر اړخ او موضوع ئې ليک کړی دی. او د هغۀ دا وېنا په ځای ده چې په پښتو ژبه ئې د نظم نثر او خط بې حسابه حق دی. او د دې ژبې د ترقۍ او پوهې د پاره ئې که يو طرف ته د فارسۍ، عربۍ، هندي او د ترکي ژبې د لغاتو نه استفاده کړې ده نو بل اړخ ته ئې د موضوعاتو او مطلب د افادې د پاره نوي ټکي هم جوړ کړي دي.

ډاکټر يار محمد مغموم ليکي:

"ډېر ټکي داسې دي چې خوشحال بابا د خپل دور او وخت د تقاضو مطابق د ځانه جوړ کړي دي او تر څو چې چا د خوشحال بابا نفسياتي مطالعه نۀ وي کړي د هغۀ د خود ساخته ټکو په معنو نۀ شي پوهېدی. او د خوشحال بابا د دغه اړخ مطالعه ډېر کړاو غواړي. خوشحال بابا داسې تېکنيکي اصطلاحات استعمال کړي دي چې اکثر لوستونکي ئې په معنا نۀ پوهېږي"(9).

دا نوي ټکي او اصطلاحات جوړول په هر دور کښې د عصري ضرورت له مخه کېږي. ځکه چې يو نوی څيز يا علم يوې ژبې ته دننه کېږي نو د هغې د مفهوم ادا کولو او اولس ته د رسولو د پاره داسې ټکي او اصطلاحات ضروري وي چې اولس دې پرې هم پوهه شي او ژبه هم غني شي او دا د هر دور او هرې ژبې ضرورت دی. او د خوشحال بابا نه وړاندې او وروستو دغه عمل جاري پاتې شوی دی او اوس هم دغه ضرورت د پخوا نه زيات دی. ځکه چې هره ورځ نوي نوي څيزونه د جديد سائنس او عالمي ترون په وجه مخې ته راځي چې ژبه کښې د نيو لوجېزم احتياج پېدا کوي.

"د روښانيانو په اثارو کښې ډېر عربي لغات مفغن شول او خوشحال خان خټک او ځامنو يې ډېر نوي نومونه په پښتو کښې کېښودل چې په بېلګه کښې ئې د خوشحال خان خټک له خوا د لمريز کال برجونه پښتو نومونه يادولی شو"(10).

آروغ: خوشحال بابا د طمعې د پاره استعمال کړی دی.

عزت په دا کښې چې هېڅ دروغ نۀ کړی
د چا له غوړه خوا نه آروغ نۀ کړی

(ارمغان خوشحال ص ۱۴۱)

اندر تل: خام کول، په اومۀ تار ګنډل، ګنډلې سترګې، پټې سترګې.

که د باز ججوره خیرې شي بازداره
اندر **تل** ئې ضروري دی له تلواره

(ارمغان خوشحال ص **۱۰۱۵**)

بلېږده: بلېږدل، زړه پانګه، تاوول، منظومول معنو کښې د بي بي نېک بختې په حواله اخستی دی. خو خوشحال بابا د زوکړې یا پېدائش په معنا راوړی دی.

سعادت مند شه د پلار په خونه
مېندې دا هسې زویه **تل** بلېږده

(ارمغان خوشحال ص ۱۹۲)

پرېوتۀ: نمر پرېواتۀ، مغرب

تر وختۀ تر پرېوتۀ څو ښځې پېدا کیږي
څو دي په جهان واړه څلور ذاته حسابیږي

(ارمغان خوشحال ص ۸۸)

تله: د برج میزان د پاره خوشحال بابا په اول ځل استعمال کړی دی.(اوومه میاشت د ۲۳ ستمبر نه ۲۳ اکتوبر پورې)

خزی: ښځونک، د ښځې په وار پېدا، بې ننګه

په ښکار د چا دي د پښتنو دي
نور څۀ ئې مۀ ګڼه لکه **خزی** دي "(11)

ددودامې: کوک شاسترسنکهني په نوم راوړی دی. بدرنګې، بدبوداري، هوس پرستې معنې لري.

تعریف د ددودامو درته وکړم راته غوږ کړه
په زړۀ کلپه ناغسه په خبره نۀ شرمېږي

(ارمغان خوشحال ص ۹۰)

درګه: دزړۀ درزا ، زړې پانګې د زړۀ توپ، تکان د خوشحال بابا د شعر په حواله راوړي.

ستا په دیدار مې سترګې خوږېږي
زړۀ مې راووت د غم له درګه

سپین سر توب: د سپین سر یعنې زوړ عمر، د زوړ عمر چارې

هسې رنګ دی سپین سر توب که
چې نور ورک ګنده آشوب که

(طب نامه: ص ۱۰۱)

سپلوی: اسویلې، آه سرد

که پېوند د اېمل خان د دریا خان شته
د خوشحال خټک سپلوی تر دا میان شته

(ارمغان خوشحال ص۱۰۲۱)

غوایۀ: غوئی، برج ثور، ۲۱ اپرېل نه ۲۱ مئ پورې

په غوایۀ په جوزا یاره
مله ئې ګوره کړه اختیاره

(طب نامه ص ۱۴)

تر غوایۀ پورې د زانو ښکار موندۀ شي
د بټېرو ښکار په دا موسم کښې ښۀ شي

(ارمغان خوشحال ص۹۸۷)

فیل اندامې: هستني (کوک شاستر)، د هاتي غوندې اندامونه لرونکې ښځې
اوس غوږ باسه و ما ته مخ ئې تور د ددودامو
بیان د فیل اندامو هم ضرور دې بیانېږي

(ارمغان خوشحال ص ۹۱)

کلبۍ: کلب سپي ته وائي عربي لغت دی. خوشحال بابا د پښتو ګرائمر مطابق تانیث کړی دی. معنا سپۍ.

زړۀ ئې ډک وي له اخلاصه
له کلبۍ له تګۍ خلاصه"(12)

(طب نامه ص ۱۲۲)

کنګ: څربه پېغله (زړه پانګه)"(13)

دنګه تازه کنګه قدغرغره مو کمره
ښه يي ترګلونو د ګلابو عذره

ګل فامې: پدمني(14) (کوک شاستر) پري پېکرې، فرښته صفتې

ګل فامې دي هغه چې نيلوفر غوندې ئې تن وي
له تنه ئې ښۀ بوی درومي بورا باندې څرخيږې

(ارمغان خوشحال ص ۸۸)

لړم: برج عقرب ۲۴ اکتوبر نه تر ۲۲ نومبر

په لړم په لينده ښۀ وي
که ښۀ سونډ ورسره ملۀ وي

(طب نامه ص ۱۴)

ښاړی هم په ميزان راشي که ئې وينې
په اول د لړم راشي زړۀ ئې وينې

(ارمغان خوشحال ص۹۸۷)

للوزه: لل، کمزوری، احمق:

خپل غوړونه ورته څک کړه ګوندې واورې
راز د مينې د بلبلو له للوزه

(ارمغان خوشحال ص ۳۹۷)

له عقله پلي: عقل سے پېدل هونا د هندي محاوره ده. دا د خوشحال بابا مستعاره ترجمه ده.

په تنګ خبر نهٔ دي بې تنګه کلي دي
وفا ئې نهٔ شته له عقله پلي دي

(ارمغان خوشحال ص ۲۱۴)

لینده: برج قوس نهمه میاشت یا برج، ۲۳ نومبر نه ۲۱ دسمبر

لینده ورغومی صحبت هم زیان لري
په دا منزل دی په بهار کوړي

(ارمغان خوشحال ص ۲۲۲)

که راتلل د مرغابیو په خوشه دي
ښې د ښکار لائقې عین په لینده دي

(ارمغان خوشحال ص۹۸۷)

ماهی: برج خوت ۲۰ فروري نه ۲۱ مارچ پورې

په ماهي په حمل زویه
له عسل ئې خوراک بویه

(طب نامه ص ۱۴)

مزری: د برج اسد د پاره، ۲۴ جولائي نه ۲۳ اګست پورې

صحبت په سرطان کښې په مزري په وړي
مرد به خپل ځان ژغوري زما له نغوړي

(ارمغان خوشحال ص ۲۲۲)

نېک فر جامې: کوک شاستر ورته چترنې وائي: او خوشحال بابا د ښځو دغې قسم د پاره نېک فرجامه راوړی دی ګل رنګې.

ګل فامه خو مې ووې نېک فرجامه درته ستائیم
په حُسن په ښائست کښې و ګلفامو ته رسېږي

(ارمغان خوشحال ص ۸۹)

نیمرېځی: غرمنۍ ډوډۍ، هغه خوراک چې په مړه خېټه نۀ وي زړه پانګه، ناشته، د لسو بجو چائی.

سپینه خولۀ ئې و ما راکړه وې مې موړ شوم
وې ئې خوره یې وړیه دا خو نیمریځی دی

(ارمغان خوشحال ص ۸۲)

واګشت: واپس کېدل، په شا تلل، ورځ ګرځېدل.

"لا" په فال کښې که پوهېږې
نفي حرف دی که ګروهېږې
واګشت بویه له عرضه
چې پائیږي بې مرضه"(15)

(فال نامه ص: ۴۸)

وختۀ: نمر ختۀ، مشرق

تر وختۀ تر پرېواتۀ څو ښځې پېدا کیږي
څو دي په جهان واړه څلور ذاته حسابیږي

(ارمغان خوشحال ص ۸۸)

ورغومی: برج جدي، چیلوکی، لسمه میاشت، ۲۲ دسمبر نه ۲۰ جنوري پورې

لینده ورغومی صحبت هم زیان لري
په دا منزل دی په بهار کوري

(ارمغان خوشحال ص ۲۲۲)

وږي: برج سنبله، ۲۲ اګست نه ۲۲ ستمبر پورې

صحبت په سرطان کښې په مزري په وږي
مرد به خپل ځان ژغوري زما له نغوږي

(ارمغان خوشحال ص ۲۲۲)

د خوشحال بابا کلام د همه ګیریت اعلیٰ نمونه او د همه رنګونو هېنداره ده. که مونږ صرف د هغۀ د ژب پوهنې Linguistic اړخ ته نظر وکړو نو په دې مېدان کښې به هم د هغۀ فکر

تر هر چا زيات وسعت ولري. د نوي لغت جوړوني Neologism تجربې ئې په کلام کښې په نظر راځي. او نۀ صرف نوي ټکي يې جوړ کړي دي بلکې هغو تورو دوام هم موندلی دی. هغۀ چې د برجونو کوم نومونه پښتو کړي دي هغه اوس هم استعمالیږي. لکه بُرجِ حمل د پاره وری، ثور (غوځکی) جوزا (ځینور)، سرطان (کني کبر)، اسد (زمری)، سنبله (وږی)، میزان (تله)، عقرب (لړم)، قوس (لینده)، جدي (ورغومی)، دلو (بوکه)، خوت (مهی)، او داسې نور ډېر لفظونو ئې ژوند ګټلی دی. د هغۀ په شاعرۍ کښې بې شمېره مرکب ټکي شته چې دا هم د لفظ جوړوني Word formation اهم توکی دی. دغسې اشتقاق چې د سابقو او لاحقو په ذريعه کيږي. د بابا کلام کښې پرېوانه دي. د دې نه علاوه د ژب پوهنې په اړخ کښې څۀ نا څۀ نخښې په نظر راځي. او دا ئې په ژبه د عبور څرګندې نمونې دي.

***

# حوالې

(1)A dictionary of neologism, fifty years among the New words, John Algeo, Cambridge University Press 1991 page3

(2) شینواری، دوست، سر محقق، د عبدالحمید مومند په اشعارو کښې نیو لوجېزم، مشموله د عبدالحمید مومند یاد ، مولفه هېواد مل، دولتي مطبه، د پښتو څېړنو نمره ۲۹ ، ۱۳۲۲ل، ص ۵۳.

(3) عامر، عبدالکریم، پښتو محاورې، پښتو څېړنه لورا لائي مارچ، ۲۰۱۱ء ص ۴

(4) صدیق روهي، سر محقق، نوي لغتونه او اصطلاحات مشموله کره کتنه، مولفه افضل ټکور، دولتي مطبعه کابل،۱۳۲۵ ، ص ۸۳.

(5) زیار، دوکتور، پوهاند، پښتو وییپوهنه او وییرغاونه، جلال اباد، دوېم چاپ ۱۳۹۳ ل، ص ۱۴۰.

(6) همدغه اثر ص ۱۳۳

(7) زیار، دوکتور، پوهاند، د حمزه ژب ښکارائیز سبک، مشموله د حمزه یاد، د قومونو او قبائلو وزارت کابل، ، ۱۹۸۷ء ص ۴۹

(8) John Algeo, page 3

(9) مغموم، یار محمد ، د خوشحال فرهنگ، اول جلد ، پېښور، مارچ ۱۹۸۵ء ص ۹

(10) برېښ، په پښتو کښې نوې نومونې، مشموله کره کتنه، مدون افضل ټکور، دولتي مطبعه کابل، ۱۳۲۵ ، ص ۷۸

(11)ارمغان خوشحال، مقدمه سید رسول رسا ، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، دریم چاپ، ۲۰۰۹ء، ص ۳۳۳

(12) خوشحال خان خټک، طب نامه، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۵ء، ص ۴

(13) شینواری، دوست، سر محقق، زړه پانګه، د افغانستان د علومو اکېډیمي کابل، ، ۱۳۲۳ل.

(14) کوکا پنډت، کوک شاستر، دیا ګنج، پرېم لال بک سنټر نئي دهلي، ۱۹۲۰ء ص ۲۲

(15) خوشحال خان خټک، فال نامه، سمون حبیب الله رفیع، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۵ء، ص ۴۸